# په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه تازه راپور:

اپریل- جون ۲۰۲۶

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

## د دغه راپور په اړه

په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه دغه تازه راپور، چې د ۲۰۲۶ کال د اپریل څخه تر جون پورې موده رانغاړي،[۱] د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا د ورکړل شوي ماموریت سره سم د ترسره شوې څارنې پر بنسټ چمتو شوی.[۲]

## د ښځو حقونه

### *د ښځو د تګ راتګ په آزادۍ محدودیتونه*

د جون میاشتې ۶-۸ نیټې تر منځ، په هرات ولایت کې *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر کارکونکو لږترلږه ۳۰ ښځې د ناسم حجاب اغوستلو په تور ونیولې. د لا ډیرو مالوماتو لپاره په هرات کې د حجاب د پلي کیدو د کمپاین په اړه دې راپور سره ضمیمه شوې لیکنه وګورئ.

د جون په ۱۸، *برحاله* د حج او اوقافو وزارت پخپله (X) پاڼه اعلان وکړ چې د جون په ۱۹، د جمعې د خطبې موضوع به د «حجاب رعایت» وي.[۳] امامانو ته لس پاڼې سند وویشل شو چې له مخې یې حجاب باید:

- د ښځو ټول بدن، پرته له سترګو په داسې جامو سره لکه لوي څادر[۴] یا هغې ته ورته لباس سره پټ شي چې د هغې بدن او د هغې کالي ښکاره نشي؛
- باید ډېل او پراخه وي، تنګ نه وي، او د بدن هیڅ اندام به ورڅخه نه ښکاري؛
- زینت به نلري؛
- د سړیو او "کفارو" د کالیو سره مشابهت ونلري؛
- خوشبو ونلري.

او وایي چې حجاب داسې لباس نه دې چې د اغوستلو څخه مقصد یې په خلکو کې شهرت پیدا کول وي.

د راپور په موده کې *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر کارکونکو هټیو او روغتیایي کلینیکونو څخه لیدنې ترسره کړې تر څو هغوی ته سپارښتنه وکړي چې پرته له محرم څخه ښځو ته د ننوتلو اجازه ورنکړي.

د بیلګې په ډول:

- د مې په ۲، په کندهار ولایت، کندهار ښار کې، *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو د ښځو د آرایش او د ښځینه پیرودونکو اړوند نورو محصولاتو د یو شمیر پلورنځیو څخه لیدنه ترسره کړه. هغوی هټیوالو ته لارښونه وکړه چې په هغو ښځو چې محرم ورسره نه وي هیڅ شی ونه پلوري.
- د مې په ۲۱، په ارزګان ولایت، دهراود ولسوالۍ کې *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو د روغتیایي مرکز څخه لیدنه وکړه ترڅو د لارښوونو سره د تطابق ارزونه وکړي. دوی ټینګار وکړ چې ښځینه ناروغانې باید روغتیایي پاملرنه ترلاسه نکړي مګر دا چې محرم ورسره وي، او کاري ساعتونو په موده که باید ښځینه روغتیاپالانو سره محرم وي.

د یوناما د بشري حقونو څانګې همدارنګه د ښځو د تګ راتګ په آزادۍ باندې محدودیتونه مستند کړي ځکه چې د *برحاله* چارواکو غوښتنه ده چې له کور څخه بهر ښځو سره باید محرم وي.

د بیلګې په ډول:

- د مې په میاشت کې، د لوګر ولایت[۵] په محمد آغې ولسوالۍ کې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو یوې ښځې ته چې د خوراک توکي یې پیرل، شفاهي خبرداری ورکړ، ځکه چې د هغې سره محرم نه وه. نارینه هټیوال په څپیړه ووهل شو او د ولسوالۍ امر بالمعروف او نهي عن المنکر آمریت ته

[۱] ټولې ذکر شوې نیټې په ۲۰۲۶ کال پورې اړه لري، مګر دا چې بل ډول یې یادونه شوې وي.
[۲] [د ۲۰۲۶ کال د جون تر ۱۵]: د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) پریکړه لیک، چې د ۲۸۱۸ (۲۰۲۶) پریکړه لیک له مخې تمدید شو؛ [د ۲۰۲۶ کال د جون د ۱۵ څخه]: د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۸۲۲ (۲۰۲۶) پریکړه لیک.
[۳] *برحاله* د حج او اوقافو وزارت د (X) پاڼه (https://x.com/mohiaAfghan/status/2067574703603028029).
[4] هغه لوی لباس ته وایي چې سر څخه نیولې تر ښنګرو پورې ټول بدن پټوي، او مخ نه پټوي.
[۵] د ساتنې په موخه کره ځای او نیټه نه ده لیکل شوې.

ویورل شو. هغه د څو ساعتونو وروسته د ټولنې د مشرانو له مداخلې او د تضمین لاسلیک کولو وروسته خوشې شو، هغه تضمین ورکړ چې په راتلونکې کې له محرم پرته ښځو باندې به توکي نه پلوري.

- د جون په میاشت کې، په بدخشان ولایت کې،[٦] *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو له هغو ښځو څخه پوښتنې وکړې چې سودا یې کوله ځکه چې محرم ورسره نه و او "مناسب حجاب" یې نه و اغوستی. نارینه هټیوال د ښځو په استازیتوب مداخله وکړه، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محتسبینو د هټۍ کیلي ضبط کړه او امر یې وکړ چې پلورنځی دې د دریو ورځو لپاره وتړل شي. په دریمه ورځ، هټیوال *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر دفتر ته ولاړ ترڅو کیلي ترلاسه کړي، خو هغوی رد کړه. یوه لفظي شخړه رامنځته شوه، وروسته هټیوال د څو ساعتونو لپاره د *برحاله* پولیسو په نظارت خونه کې توقیف شو. هغه وروسته په هماغه ورځ د ټولنې د مشرانو په مداخله خوشې شو.

## ۱۸ ګڼه فرمان "د زوجینو د تفریق اصولنامه"

د مې په ۱۴، *برحاله* د عدلیې وزارت، د ۲۰۲۶ کال د اپریل ۸ نیټې "د زوجینو د تفریق اصولنامه" تر عنوان لاندې ۱۸ ګڼه فرمان خپور کړ.[٧] دغه فرمان هغه زمینې برابروي چې له مخې یې کیدای شي ښځې د تفریق غوښتنه وکړي پداسې حال کې چې نارینه د طلاق یو اړخیز حق لري. د نورو مادو تر منځ، فرمان:

- د ښځې د نکاح اعتبار د هغې د ولي اجازې پورې منوط کوي: فرمان صراحت لرې چې "هغه ښځه چې... د ولي له اجازې پرته له غیرکفو سره نکاح وکړي، نکاح یې صحت نه لري" (۳ ماده).

- په ضمني ډول د ماشومانو واده ته اجازه ورکوي: فرمان صراحت لري چې که پلار او نیکه پرته له خپلوانو څخه یو د صغیر یا صغیرې د نکاح عقد له کفو سره په مهر مثل[٨] باندې وکړي، عقد صحیح دی (۵ او ۶ ماده).

- هغه شرایط محدودوي په کوم کې چې یو ماشوم نکاح کړې او غواړي چې نکاح یې فسخه شي: په هغو نکاح ګانو کې چې د پلار یا نیکه پرته د خپلوانو له لورې ترسره شوي وي، بلوغ ته په رسیدو سره د نکاح د تداوم په اړه د باکرې نجلۍ سکوت، د هغې د فسخې حق باطلوي. په هر حال بلوغ ته په رسیدو سره د هلک یا ثیبې سکوت سره د نکاح د فسخې حق نه باطلیږي. د هلک یا ثیبې خیار بلوغ د رضایت په ښکاره کولو سره که هغه صراحتاً وي یا دلالتاً، باطلیږي (۵ او ۷ ماده). هغه نکاح چې د پلار یا نیکه لخوا ترسره شوې وي یواځې هغه مهال فسخه کیدای شي چې نجلۍ وښیي چې د هغې ولي ورسره "د شفقت معامله نه ده کړې او یا په سوء اختیار معروف دی" (۸ ماده).

- د هغو ښځو لپاره چې تفریق غواړي سخت خنډونه رامنځته کوي: د ځینو استثنایي شرایطو پرته میړه باید د تفریق لپاره رضایت وښیي. آن که چیرې میړه مفقود وي ښځه باید "دومره موده انتظار وکړي چې د مفقود مرګ یقیني شي او د ده د قرن خلک (همزولي) ټول وفات شي" (۱۵ (۲) ماده).

د مې په ۲۰، د *برحاله* چارواکو ویاند د فرمان په اړه د خلکو د نیوکو په ځواب کې وویل چې فرمان د شریعت پر بنسټ دی، او "هغو کسانو اعتراضونه... چې د اسلام له دین او اصولو سره ستونزې لري" په پام کې ونه نیول شي.[٩] هغه ټینګار وکړ چې پلرونه او نیکونه د خپلو ماشومانو/لمسیانو د نکاح د پریکړې صلاحیت لري. هغه زیاته کړه که یوه نجلۍ د واده لپاره نامزد شوې وي: "مخکې له دې چې واده شي... کولی شي محکمې ته لاړه شي او د پلار یا نیکه د ولایت په اړه خپل اعتراض څرګند کړي او ووایی چې د دې دلایلو له امله زه نه غواړم چې واده ترسره شي".

[٦] د ساتنې په موخه کره ځای او نیټه نه ده لیکل شوې.
[٧] *برحاله* د عدلیې وزارت ویب سایټ (https://laws.moj.gov.af/ShowLawPersian.aspx).
[٨] مهر مثل د مناسب مهر یا معادل مهر په مانا دی. دا په اسلامي ودونو کې کله چې د نکاح په جریان کې کوم ځانګړی مهر باندې موافقه نه وي شوي یا کله چې ټاکل شوی مهر اندازه باطله یا غیرقانوني وګڼل شي، د یوې ښځې د مهر لپاره معیار ګرځول کیږي.
[٩] د ملي رادیو تلویزیون (دري خبرونو) (X) پاڼه (https://x.com/rtadarinews/status/2057126062337695946).

### د ملګرو ملتونو دفترونو ته لاسرسی

د جون په ۳۰ د ملګرو ملتونو دفترونو ته د افغان ښځو د ننوتلو د منع کېدو ۲۹۶ ورځې پوره شوې. د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر له ۷ راپدیخوا، *برحاله* چارواکو د ملګرو ملتونو دفترونو ته د افغان ښځو (د ملګرو ملتونو کارکونکو، قراردادیانو او بلل شوو په ګډون) له ننوتلو څخه ممانعت کوي.

### زده کړه

د مې او جون په میاشتو کې، *برحاله* ملي آزموینې ادارې په ټول هیواد کې دولتي پوهنتونونو ته د لارې پیدا کولو لپاره د کانکور آزموینه واخیسته. په ټولیزه توګه ۱۲۰۰۰۰ نارینه زده کونکو په دې ازموینو کې برخه واخیسته.[۱۰] هیڅ یوې ښځې او نجلۍ پکې برخه وانخیسته ځکه چې دوی د ۲۰۲۲ کال د دسمبر میاشتې ۲۰ نیټې راپدیخوا د لوړو زده کړو څخه منع شوي دي.

د یوناما بشري حقونو څانګې داسې موارد مستند کړي چې *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر کارکوونکو د ښونځیو تفتیش ترسره کړی تر څو د دوي قواعد رعایت شي. د بیلګې په ډول، د اپریل په ۱۳، د هرات ولایت په هرات ښار کې، د *برحاله* د امربالمعروف او نهي عن المنکر محتسبین د نجونو د ښوونځي څخه بهر ودریدل او د هغو ښځینه ښوونکو مخه یې ونیوله چې لوي څادرونه یې په سر نه وو. دوی ښځو ته خبرداری ورکړ چې که په راتلونکي کې لوي څادرونه په سر نکړي نو له خپلو دندو به ګوښه شي.

## د پولې په اوږدو کې پیښې

د دې راپور په موده کې، د پولې په اوږدو کې ملکیانو ته د مرګ ژوبلې اړوند پیښو د مطالعې لپاره، دې راپور سره ضمیمه شوې لیکنه وګورئ.

## بدني سزا

د اپریل له ۲۲ راپدیخوا، *برحاله* سترې محکمې په عام ډول د بدني سزاګانو په اړه په خپلو ټولنیزو رسنیو یا ویب سایټ باندې کوم اعلان نه دی کړی. د یوناما بشري حقونو څانګې تائید کړې چې د ۲۲ اپریل نه وروسته، په څینو ولایتونو کې *برحاله* ابتدائیه/د ولسوالۍ محکمې کارکوونکو سزاګانې پلي کړي دي. په څینو مواردو کې لیدونکو راپور ورکړی چې د بدني سزا د تطبیق پر مهال د اشخاصو حضور تر ډیره *برحاله* د محکمې کارکوونکو پورې محدود وو. دا په کړنو کې یو بدلون دی، پخوا به سزاګانې په ټولنیزو رسنیو کې اعلانیدې او تر ډیره به په لوبغالو یا محکمو کې ترسره کېدې، چې ډیر ځایي اوسیدونکي او *برحاله* چارواکي به پکې حاضر وو.

د یوناما بشري حقونو څانګې د اپریل ۱ څخه تر جولاي ۳۰ پورې داسې موارد مستند کړي چې *برحاله* چارواکو لږ تر لږه ۱۳۷ کسانو (۱۱۲ نارینه او ۲۵ ښځو) باندې قضایي بدني سزاګانې پلي کړي دي.

څینې بدني سزاګانې په عام ډول پلي شوې دي. د بیلګې په ډول، د جون په ۱۴، د بلخ ولایت په دهدادي ولسوالۍ کې، *برحاله* د ولسوالۍ محکمې کارکوونکو، شپږ نارینه او یوه ښځه په دُرو ووهل. شپږ نارینه د روژې خوړلو لپاره په دوه میاشتې بند او ۲۰ دُرو باندې محکوم شوي وو. ښځه د نامشروع اړیکو لپاره په یو کال حبس او ۲۰ دُرو باندې محکومه شوې وه. سزا پداسې یوه غونډه کې پلي شوه چې *برحاله* چارواکو او ډیرو ځایي خلکو پکې ګډون درلود.

## په هرات کې په شیعه ګانو باندې برید

د اپریل په ۱۰، د هرات ولایت، انجیل ولسوالۍ، ده میري په کلي کې، څلورو نامالومه وسله والو سړیانو په هغو ملکیانو ډزې وکړې چې د سید محمد آقا زیارت (د شیعه ګانو زیارت) مخې ته یې میله کوله. ۱۲ ملکیان ووژل شول (نهه سړي، دوه ښځې او یو ماشوم)، او ۱۴ نور ټپیان شول (اته سړیان، دوه ښځې، دوه ماشومان او دوه ماشومانې). هیچا د برید مسولیت په غاړه وانخست. *برحاله* د کورنیو چارو وزارت ویاند پخپله (X) پاڼه برید تائید کړ.[۱۱]

## د پخواني حکومت چارواکي او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړي

د اپریل د لومړۍ او د جون د ۳۰ ترمنځ، د یوناما د بشري حقونو څانګې د پخواني حکومت د چارواکو او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د پخوانیو غړو د خپلسرو نیونو او توقیف لږ تر لږه ۲۹ پیښې، د شکنجې او ناوړه چلند لږ تر لږه پنځه پیښې،

[10] *برحاله* د کانکور ملي ادارې ویب سایټ (https://nexa.gov.af/fa/news/details/149).
[11] *برحاله* د کورنیو چارو وزارت د (X) پاڼه.

او سربېره پر دې د پخوانیو افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړو د وژنې لړ تر لړه اته پېښې مستندې کړې دي.

د پخواني حکومت چارواکي او پخواني افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړي چې په جبري ډول افغانستان ته بېرته راستانه شوي، له راستنېدو وروسته هم د بشري حقونو د سرغړونو له خطر سره مخ دي. د بېلګې په توګه، د اپرېل په ۱۰، د هرات ولایت په هرات ښار کې، د افغانستان د ملي اردو یو پخوانی افسر د ایراني چارواکو له خوا په جبري توګه افغانستان ته بېرته راستون شوي وو. هغه د بېرته راستنیدو په ورځ ورک شو او کورنۍ یې د هغه په اړه هېڅ خبر نه لري.

## په بدخشان کې د کوکنارو د له منځه وړلو کمپاینونه

د مې په ۸، د بدخشان ولایت د ارګو ولسوالۍ، په التین جیلاو سیمه کې لاریون کوونکو د *برحاله* چارواکو له خوا د نشه یي توکو پر ضد د عملیاتو په ترڅ کې د کوکنارو د کروندو د له منځه وړلو پر وړاندې اعتراض وکړ. *برحاله* امنیتي ځواکونو د لاریون کونکو د خورولو لپاره ډزې وکړې. یو نهه کلن هلک چې د ډزو څخه د تېښتې هڅه یې کوله له یوې غونډۍ څخه ولوېدو او ژوند یې له لاسه ورکړ.

د مې په ۹، لاریون کوونکي یو ځل بیا په همدې ځای کې راټول شول. *برحاله* امنیتي ځواکونو د لاریون د خورولو لپاره ډزې وکړې. د ډزو له امله یو سړی پداسې حالت کې ووژل شو چې په یوه خره سپور و، د ډزو له امله خر وترېده او له یوې غونډۍ ولوېد چې له امله یې یاد سړی ووژل شو.

د مې په ۹، د *برحاله* چارواکو د ولایتي او ولسوالۍ استازو، د بدخشان *برحاله* مرستیال والي او د ارګو ولسوالۍ د *برحاله* مرستیال ولسوال په مشرۍ، د خلکو له ځايي استازو سره خبرې اترې پیل کړې. د کوکنارو د له منځه وړلو عملیات په موقت ډول ودرول شول.

د مې په ۹، طلوع نیوز راپور ورکړ چې د بدخشان *برحاله* پولیسو ویاند تایید کړې چې د ارګو ولسوالۍ د اعتراضونو په پایله کې دوه کسان وژل شوي دي.[۱۲]

## د رسنیو آزادي

د یوناما د بشري حقونو څانګې د خبریالانو د توقیف او د رسنیو د فعالیتونو د ځنډولو څو پېښې مستندې کړې، د دې څرګندونه کوي چې د رسنیو سکتور لا هم په یوه ستونزمن چاپېریال کې فعالیت کوي:

- د اپرېل په ۱۱، د خوست ولایت په خوست ښار کې، *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور او پوهنې ریاستونو د لونګ راډیو ښوونیز پروګرامونه ودرول او ویې ویل چې دغه پروګرامونه د ښوونیز نصاب له معیارونو سره سمون نه لري.
- د مې په ۱۷، د بامیان ولایت په بامیان ښار کې، *برحاله* د استخباراتو لوی ریاست د بامیان راډیو د تړلو امر وکړ. پر دې راډیو داسې تور وو چې له معتبر جواز پرته یې خپروني کولې. د جون په ۲۳ یې خپلې خپرونې بیا پیل کړې.
- د جون په ۲۱، *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور وزارت راه فردا ټلوېزیون ته اجازه ورکړه چې خپلې خپرونې بېرته پیل کړي. د دغه ټلوېزیون خپرونې د فبرورۍ په ۲۸ له دې امله ځنډول شوې وې چې د *برحاله* چارواکو په اند، د دې ټلوېزیون د مالک څرګندونو پر افغان ملکي وګړو د پاکستان پوځي اقدام توجیه کاوه. ټلوېزیون ته د مدیره پلاوي له بدلون وروسته اجازه ورکړل شوه چې خپلې خپرونې بېرته پیل کړي .
- په کندهار او غزني ولایتونو کې لږ تر لږه اووه راډیوګانو د خپلو جوازونو د ساتلو لپاره د مالي او نورو مکلفیتونو د پوره کولو د ناتوانۍ له امله خپلو فعالیتونو ته دوام ورنشو کړای.

د مې په میاشت کې، د کابل په ښار کې، *برحاله* د استخباراتو لوی ریاست په دوو جلا پېښو کې درې خبریالان ونیول:

[12] د طلوع نیوز (X) پاڼه (https://x.com/TOLONewsEnglish/status/2053060879000949076).

- د مې په ۴، د کابل په ښار کې، د *برحاله* استخباراتو لوي ریاست کارکوونکو د یوه خبري اژانس دفتر تالاشي کړ او ټیلیفونونه، کمرې، کمپیوټرونه او اسناد یې ورته ضبط کړل. د مې په ۵، *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست د همدې اژانس مشر احضار او توقیف کړ، څوک چې د جولای په ۷ له بند څخه خوشې شو.

- د مې په ۷، د کابل په ښار کې، *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست د ټلویزیون دوه نارینه خبریالان ونیول. د مې په ۱۰، *برحاله* د استخباراتو لوي ریاست د دغو دوو خبریالانو اړوند دفترونه، ټیلیفونونه، لیپټاپونه، کمپیوټرونه او کمرې تالاشي کړل. د همدې رسنیزې ډلې ګڼ کارکوونکي یې د څو ساعتونو لپاره د *برحاله* استخباراتو لوي ریاست ودانۍ ته د پوښتنو په موخه وړي وو. دغه دوه خبریالان د مې په ۲۶ خوشې شول. د دوی پر وړاندې د لګول شویو تورونو په اړه هیڅ مالومات نه وو ترلاسه شوي.

## د طالبانو د مشر له خوا په *برحاله* چارواکو د ځیرکو ټیلیفونونو پر کارولو محدودیتونه

شاوخوا د جون په ۱۵، د طالبانو مشر یوه لارښوونه صادره کړه چې له مخې یې د ښوونې او روزنې او روغتیایي ادارو په ګډون، پر *برحاله* چارواکو د ځیرکو ټیلیفونونو کارول منع شوي وو. په دې لارښوونه کې راغلي چې د ځیرکو ټیلیفونونو د کارولو په صورت کې دندې څخه د ګوښه کیدو او نورو قانوني اقداماتو په ګډون، مجازات ترسره کیږي. ځینو *برحاله* ادارو دغه لارښوونه داسې تعبیر کړه چې په دفترونو کې د ځیرکو ټیلیفونونو کارول منع دي، خو ځینو نورو دا د شخصي ځیرکو ټیلیفونونو پر لرلو د بشپړ بندیز په توګه تعبیر کړه. په ځینو دفترونو کې د کارکوونکو ځیرک ټیلیفونونه ضبط او له منځه یوړل شو.

له دغې لارښوونې وروسته، ګڼو *برحاله* چارواکو پر ټولنیزو رسنیو د خپلو اعلانونو خپرول بند کړل. د بېلګې په توګه، د کندز د *برحاله* پولیسو ویاند پر خپلې فېسبوک پاڼې د مطالبو خپرول بند کړل.[13] د جون په ۱۵، کندز ولایت کې، *برحاله* د اطلاعاتو او کلتور ریاست یوه کارکوونکي پر خپلې فېسبوک پاڼې اعلان وکړ چې نور به ځیرک ټیلیفون نه کاروي.[14] د جون په ۲۸، هغه څرګنده کړه چې له دې وروسته به یوازې له رسمي کاري ساعتونو وروسته د لیپټاپ په کارولو سره مالومات خپروي.[15] د *برحاله* چارواکو ویاند لا هم پر (X) فعال دی.[16]

## امر بالمعروف او نهي عن المنکر

د اپریل د لومړۍ او د جون د ۳۰ تر منځ، د یوناما د بشري حقونو څانګې لږ تر لږه د افغان ښځو او نارینه وو د خپلسرو نیولو او توقیف ۳۸۹ پېښې او د ناوړه چلند ۶۵ پېښې مستندې کړې، چې د *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د محتسبینو له خوا ترسره شوې وې. د دغو پېښو ډېری یې د حجاب د لارښوونو (د ښځو لپاره)، د ږیرو لنډولو/ "غربي" ډوله وېښتو (د نارینه وو لپاره)، او د موسیقۍ د غږولو یا اورېدو د ادعا شویو سرغړونو په تړاو وې.

د اپریل په ۲۸، د مبلغینو قانون د ۲۰۲۵ کال د فبرورۍ د ۵ نېټې په ۱۴۸۳ ګڼې رسمي جریده کې خپور شو.[۱۷] د دغه قانون له مخې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت په ټول افغانستان کې د مبلغینو د چارو د تنظیم مسؤلیت لري. د قانون د ۶ مادې له مخې، مبلغ باید د حنفي مذهب پیروي وي؛ مبلغ باید د حنفي مذهب سره سم دعوت وکړي (۱۰ (۱) ماده)؛ د فروعي اختلافي مسایلو څخه ډډه وکړي (۱۰ (۲) ماده)؛ او نابالغه ماشومان او ښځې د دعوت په غونډو کې ګډون څخه ډډه وکړي (۱۰ (۳) ماده).

## د مذهب آزادي

د جنورۍ میاشتې راپدیخوا، د بدخشان په ولایت کې، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست او په ځینو مواردو کې د نورو *برحاله* ادارو په همکارۍ د اسماعیلیه مذهب ګڼ عبادت ځایونه (جماعت‌خانې) تړلي او عبادت کوونکو ته یې لارښوونه کړې چې له هغو څخه کار وانه خلي. دوی ته د دې کار لپاره داسې دلیل وړاندې شوی وو چې دغو جماعت خانې محرابونه لري او له همدې وجې باید د جوماتونو په توګه وکارول شي

13 د کندز *برحاله* پولیسو د ویاند فېسبوک پاڼه (https://www.facebook.com/profile.php?id=61550635618551).
۱۴ د کندز *برحاله* اطلاعاتو او کلتور ریاست د یوه کارکوونکي فېسبوک پاڼه (https://www.facebook.com/share/p/1CfxsFukjR/).
۱۵ د کندز *برحاله* اطلاعاتو او کلتور ریاست د ایوه کارکوونکي فېسبوک پاڼه (https://www.facebook.com/share/p/1E5RJvRiXT/).
۱۶ د *برحاله* چارواکو د ویاند د (X) پاڼه (https://x.com/Zabehulah_M33).
۱۷ د *برحاله* عدلیې وزارت ویب سایټ (http://laws.moj.gov.af/ShowLawPersian.aspx).

(مخکې له دې  چې دغه ودانۍ د جماعت خانو په توګه وکارول شي، جوماتونه وو). د زیباک په ولسوالۍ کې لږ تر لږه ۱۷،[۱۸] د اشکاشم په ولسوالۍ کې ۱۴ او د واخان په ولسوالۍ کې دوه جماعت خانې اغېزمنې شوې دي. د دغه ستونزې د حل لپاره په سیمه‌ییزه کچه خبرې اترې روانې دي.

*برحاله* د بهرنیو چارو وزارت د یوناما بشري حقونو څانګې ته په لیکلي بڼه مالومات ورکړل چې: "...د ساحوي ارزونو پر بنسټ څرګنده شوه چې د یادو جماعت خونو وضعیت یو شان نه و؛ ځینې ودانۍ پخوا جوماتونه وو چې د تېرو کلونو په جریان کې یې ماهیت بدل شوی و، ځینې نورې ودانۍ د استوګنې یا نورو غیرعبادي موخو لپاره کارېدلې او په یو شمیر ځایونو کې د جومات هیڅ نښې نه وې موجودې. د همدې موندنو له مخې د هر ځای په اړه جلا اداري تصمیم نیول شوی دی."

د جون په ۲۶ د عاشورا د لمانځنې مراسم ترسره شول. په همدې ورځ، د هېواد په ځینو برخو کې د ګرځنده ټیلیفونونو اړوند مخابراتي شبکو خدمتونه فعال نه وو؛[۱۹] د مخابراتي شبکو شرکتونو د دوی د خدمتونو د پرې کېدو په اړه هم کوم دلیل وړاندې نه کړ. *برحاله* چارواکو د عاشورا د لمانځنې د مراسمو په تړاو ځینې محدودیتونه هم وضع کړل. د پروان او لوګر په ولایتونو کې، له شیعه ګانو څخه غوښتل شوي وو چې د عاشورا اړوند مراسم په ټاکل شویو جوماتونو کې ترسره کړي. د یوناما د بشري حقونو څانګې د عاشورا د لمانځنې لپاره د نصب شویو بیرغونو په تړاو د توقیف څو پېښې مستندې کړې. د بېلګې په توګه، د جون په ۱۸، د کابل په ښار کې، د *برحاله* عدليې وزارت کارکوونکو ۴۵ شیعه نارینه د یوې شپې لپاره څکه بندیان کړي وو چې هغوی د عاشورا بیرغونه پورته کړي وو.

## عدلي اجراآت

### *د بندیانو حقونه*

د مې په ۲۶، *برحاله* د زندانونو چارو د سمون اداري ویاند په ټول هېواد کې د لوی اختر په مناسبت د *برحاله* سترې محکمې په منظورۍ د ۱۱۹۱ بندیانو د خوشې کېدو اعلان وکړ.[20]

د جون په ۱۳ او ۱۵، *برحاله* د زندانونو چارو د سمون اداري اعلان وکړ چې ۷۵۵ افغان بندیان چې پنځه ښځې هم پکې شاملې وې، له ایران څخه افغانستان ته را لیږدول شوي او د خپل بند پاتې موده به په افغانستان کې تېروي.[21]

### *د عدلي اجراآتو په اړه د برحاله چارواکو اعلامیې*

د اپرېل د ۲۸ او د جون د ۱۰ نېټې ترمنځ، *برحاله* د عدليې وزارت په خپله رسمي جریده[22] کې د هغو نویو قوانینو او فرمانونو د خپرېدو اعلان وکړ چې د طالبانو د مشر له خوا توشیح شوي وو. په دغو قوانینو او فرمانونو کې د نورو ترڅنګ د مبلغینو قانون،[۲۳] د محاکمو جزایي اصولنامه،[۲۴] او د زوجینو د تفریق اصولنامه[۲۵] هم شامل وو.

د اپرېل په ۱۶، *برحاله* سترې محکمې د طالبانو د مشر د یوه حکم پر بنسټ د استیناف غوښتلو لپاره نوې موده اعلان کړه، چې په لاندې ډول دي:

- استیناف غوښتنه: د *برحاله* ابتدائیه محکمې د پرېکړې د ابلاغ له نېټې څخه وروسته تر یوې میاشتې پورې؛
- د *برحاله* استیناف محکمې د پرېکړې د ابلاغ له نېټې څخه وروسته تر درې میاشتو پورې.[۲۶]

[۱۸] د ۲۰۲۶ کال د فبرورۍ او مارچ میاشتو کې، د زیباک ولسوالۍ له ۲۳ تړل شویو جماعت‌خانو څخه شپږو ته د بېرته پرانیستل کېدو اجازه ورکړل شوه. د اپرېل په ۸، د زیباک ولسوالۍ د اسماعیلیه ټولنې مشرانو *برحاله* د زیباک ولسوالۍ ولسوال ته د اغیزمنو شوو جماعت خانو د بېرته پرانیستلو لپاره رسمي غوښتنه وړاندې کړه. د مې په ۲۲، *برحاله* د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست په رسمي توګه د پاتې ۱۷ جماعت‌خانو د بېرته پرانیستل کېدو اجازه رد کړه.

[۱۹] په تېرو کلونو کې هم *برحاله* چارواکو د عاشورا پر مهال د امنیتي اندېښنو په یادولو سره د مخابراتي شبکو خدمتونه ځنډولي وو.

[20] *برحاله* د زندانونو چارو د سمون اداري د ویاند (X) پاڼه (https://x.com/opa_af/status/2065680342716162149?s=20).

[21] *برحاله* د زندانونو چارو د سمون اداري (X) پاڼه (https://x.com/opa_af/status/2065680342716162149?s=20؛ او https://x.com/opa_af/status/2066420091353485348?s=20).

[۲۲] د غه ټول متنونو د *برحاله* عدليې وزارت پر وېب‌پاڼه د لاسرسی وړ دي: http://laws.moj.gov.af/ShowLawPersian.aspx.

[۲۳] د *برحاله* عدليې وزارت د (X) پاڼه (https://x.com/MojAfghanistan/status/2048992590758826444?s=20).

[۲۴] د *برحاله* عدليې وزارت د (X) پاڼه (https://x.com/MojAfghanistan/status/2052298247863943410?s=20).

[۲۵] د *برحاله* عدليې وزارت د (X) پاڼه (https://x.com/MojAfghanistan/status/2054789787157221879?s=20).

[۲۶] د *برحاله* ستری محکمې د (X) پاڼه (https://x.com/SupremeCourt_af/status/2044673897346335082?s=20).

د اپرېل په ۸، *برحاله* د عدلیې وزارت اعلان وکړ چې د ۲۰۲۵ کال د مارچ له ۲۱ څخه د ۲۰۲۶ کال د مارچ تر ۲۰ پورې یې شاوخوا ۲۷۵۰ بېوزلو شکمنو، تورنو اشخاصو، او قربانیانو ته د عدلي او قضایي مراجعو پر وړاندې د خپلو حقونو د دفاع په موخه وړیا حقوقي مساعدتونه وړاندې کړي دي.[27]

د اپرېل په ۱۸، *برحاله* سترې محکمې خپله (۱۳۱ ګڼه) جریده خپره کړه، چې په هغې کې د *برحاله* سترې محکمې د دفتر رئیس مرکه، د محکمې د عرایضو د مدیریت دفتر د نقش په اړه، هم خپره شوه. نوموړي په دې مرکه کې له هغو اشخاصو چې ادعا کوي قضیو ته یې په محکمو کې په سمه توګه رسېدګي نه کېږي وغوښتل تر څو خپل لیکلي عرایض د دفتر لوي ریاست رئیس (۱۲مه خونه) ته وسپاري.[۲۸]

د مې په ۱۳، *برحاله* سترې محکمې اعلان وکړ چې د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ د طالبانو د واکمنېدو له نېټې څخه تر د ۲۰۲۶ کال د مارچ ۱۸ پورې، *برحاله* محکمو د دیني علماوو، بانفوذه شخصیتونو او قومي مشرانو په ګډون د منځګړیتوب له لارې د قتل ۱۱۲۱ قضیې حل کړې دي، چې د *برحاله* سترې محکمې په وینا په دې توګه په دغو قضیو کې د مرګ سزا له تطبیق څخه مخنیوی شوی دی. په همدې موده کې په ۱۲ قضیو کې د قصاص (د مرګ سزا) حکم تطبیق شوی دی.[29]

د جون په ۱۵، *برحاله* سترې محکمې د میزان جریدې (۱۳۷ګڼه) خپره کړه، محکمو ته پکې داسې یادونه شوې وه چې د محکمې د رسمي اسنادو فورمې په دواړو رسمي ژبو دري او پښتو موجودې دي. همدارنګه، ټولو محکمو ته پکې لارښوونه شوې وه چې د خلکو د غوښتنې په صورت کې چې په هره ژبه وو د محکمې اسناد ورته صادر کړي.[۳۰]

د جون په ۲۴، د *برحاله* سترې محکمې مرستیال ویاند یوه خبرتیا خپره کړه، ټینګار یې کړی وو چې د شریعت له مخې د دعوې د اثبات پر مدعي دی او هغه باید خپله دعوی د تورن پر وړاندې په شرعي دلایلو ثابته کړي. په خبرتیا کې بیا ټینګار شوی وو چې که تورن قسم وکړي نو دا د هغه د بې‌ګناهۍ اصل ګڼل کېږي.[31]

د دې راپور په موده کې، *برحاله* سترې محکمې ۳۴ اعلامیې خپرې کړې چې په ۱۳ ولایتونو کې د وژنو د ۳۶ قضیو په حل کې د *برحاله* محکمو د منځګړیتوب رول روښانه کوي. پدی کې غیر قصدی وژنی او د قتل هغه قضیې هم شاملې وی چې د قصاص (د مرګ سزا) تطبیق پکی ممکن وو.[۳۲]

[27] د *برحاله* عدلیې وزارت د (X) پاڼه (https://x.com/MojAfghanistan/status/2041803261087252937?s=20).
[۲۸] د *برحاله* سترې محکمې د (X) پاڼه (https://x.com/SupremeCourt_af/status/2045500744913105112).
[29] د *برحاله* سترې محکمې د (X) پاڼه (https://x.com/SupremeCourt_af/status/2054479403510317345?s=20).
[۳۰] د *برحاله* سترې محکمې د (X) پاڼه (https://x.com/SupremeCourt_af/status/2066519638188384280?s=20).
[31] د *برحاله* سترې محکمې د مرستیال ویاند (X) پاڼه (https://x.com/Mansoorh321/status/2069804690506752389?s=20).
[۳۲] د *برحاله* سترې محکمې په (X) پاڼه باندې بیلابیلې اعلامیې (https://x.com/SupremeCourt_af/).